مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولی ناروغ

۲۰۲۳/۰۱/۰۳

# د انســـان پـــه پـــاد شــاهــې کــې،

## یـــرغمله خـــدایي ده

میـنـه لاړه آســـماني شـــوه، کـــرکـه ناخې طـوفاني ده
خــوی او بـوی د آدم واوښـت، هسـتي ټـوله زنداني ده

وباه ګــډه ده په کلـــیو، ښـــایست والــوت لــه ښـــارونو
د آدم بقـــا اســــیره، د ابلــــیس صحــنه ســـازي ده

مـــچې نـــه زبیـښي ســتا شونـــدې، د بهار بې بویه ګله
د خـوړو پـه نـامـه ګوره، څـه د زهــرو زهـر پـاشي ده

مصنوعي شـونډې غـوړیـږي، په موسکا کې پیام نشته
عقل ځـــوړنـد لـه ګـــریـوانــه، د سرونو پـریماني ده

قلـم مـات دی ګوتې ماتې، کتاب سوځي په ګولخن کې
د جـاهـل د جهل زوره، څـه ویـــرانــه ویــراني ده

دلـته څـه تکـه لـویدلي چې ژوندون داسې سپیره دی؟
لـــمر همـغه ســپوږمۍ هغـه، تکـه تـوره زنـده ګي ده

دین مذهب سیاست بـد نام دی، دموکرات میرات شعار دی
د شتـمن د دولت زوره، څـه بـــد مسته خـــرمستي ده

پـــه ظـاهـــر د تمـدن کې، بازار ښـکلی مـتاع ښـــکلې
د خوش رنګ زمان په زړه کې، څه بد رنګه بد رنګي ده

ستـــوري نـاځي پـــه هــوا کې، نـا خـــبره لـه دامـونـــو
د انســـان پـــه پـــاد شـــاهـي کـــې، یـــرغمله خـــدایي ده

ولی ناروغ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ